# ډبليو.آئي.سي حقوق او ذمه وارۍ

## د ماسيچيوسټس ډبليو.آئي.سي غذائيت پروګـرام

## حقوق

- زه حق لرم چې زما د تصديق دورې تر پايې رسېدو پورې ګټې او غذائي خدمات ترلاسه کړم.
- زه دا حق لرم چې په ماسيچيوسټس يا بل کوم ايالت/رياست کښې د ډبليو.آئي.سي کوم پروګرام ته واوړم.
- زه حق لرم چې (۵۱ يا لږې) ورځې وړاندې خبرتيا ترلاسه کړم چې زما ماشوم نور د ډبليو.آئي.سي ګټو ته وړتوب نلري.
- زه دا حق لرم چې شکايت وکړم که چيرې ماته داسې محسوس شي چې ډبليو.آئي.سي کارمندانو يا د سټور سټاف ماسره سم چلند ندې کړې.
- زه د ډبليو.آئي.سي د ګـاهک په توګـه حق لرم چې د خريدارۍ ښه تجربه ولرم. د ډبليو.آئي.سي ګـاهک سره بايد د نورو ټولو ګـاهکانو په څېر چلند وشي. که تاسو د خپل ډبليو.آئي.سي خريدارۍ تجربې سره کومه مسله يا انديښنه لرئ، نو سمدستي پروګرام يا د ايالت دفتر کښې د پلورونکي يونټ سره په ۱-۰۰۸-ډبليو.آئي.سي-۷۰۰۱ اړيکه ونيسئ.
- زه دا حق لرم چې زما دې منصفانه اوريدنه اوشي که چيرې زه د دې پروګرام ته وړتوب نلرم يا ترې بې برخې کړې شم. که چيرې زه وګنم چې دا فيصله غېر عادلانه وه نو زه حق لرم د منصفانه اوريدنې دپاره ډبليو.آئي.سي پروګرام ته په ۰۵۲، واشنګټن کوڅه، ۶م منزل، باسټن، ايم.اې ۸۰۱۲۰ : ډبليو.آئي.سي ډاريکټر ته عرضه وکړم يا ۱-۰۰۸-ډبليو.ائي.سي-۷۰۰۱ ته زنګ ووهم د مرستې دپاره.

## ذمه وارۍ

- زه به د ډبليو.آئ.سي کارمندانو او سټاف کارمندانو سره د درناوي چلند کومه
- زه پوهېږم چې د خپل بريښناليک پته او موبايل شميره شريکولو سره زه ډبليو.ائي.سي پروګرام ته دا خوښې ورکوم چې ماسره د بريښناليک، د موبايل او يا د ليکلي مسېجونو له لارې د ليدنو خبرتياوې، د معلوماتو شريکولو، سالانه د ګډونوالو سروې، فارموله/ خوراکي توکو واپس غوښتنه يا په دستۍ کښې بنديدنه اعلان کړي.
- زه پوهېږم، چې زه خپله خوښه بدلولی شم چې ډبليو.آئي.سي خبر کړم، که چيرې زه نور نه غواړم چې له ما سره دې د موبايل، بريښنا ليک يا ليکلي پيغام له لارې اړيکه ونيسي.
- زه پوهېږم چې که چېرې زما ډبليو.ائي.سي کارډ ورک شي، غلا شي يا خراب شي، زه بايد په دستۍ کښې ډبليو.ائي.سي کلينک خبر کړم.
- زه پوهېږم چې زه د ډبليو.ائي.سي په کارډ صرف د هغوي له خوا منظور کړې شوې خوراکي توکي اخيستې شم او په دې کښې ډ نورو فارمولو او ډ خوراک يا نورو توکو بدلون نه شم کولی.
- زه پوهېږم چې زه به د ډبليو.ائي.سي پروګرام څخه خارج کړې شم که چيرې زه دوه مياشتو پورې ګټه ترلاسه نکړم.
- زه پوهېږم چې د ډبليو.ائي.سي فارمولې/خوراکي توکو په په انټرنيټ د کريګ لسټ يا فيسبوک وغيره له لارې د ډبليو.ائي.سي ګټې خرڅولو، بدلولو يا وړيا ورکولو په نيت سره به زما د يو کال لپاره د ډبليو.ائي.سي پروګرام څخه وړتوب ختم کړې شي او زما څخه به د ګټو پوره نغده معاوضه هم اخيستل کېږي.
- زه پوهېږم چې زه بايد ټول ناکارول شوې ډبيلو.ائي.سي فارمولې/خوراک ډبليو.ائي.سي کلينک ته بيرته واپس ورکړم.
- زه د کوم بل پروګرام څخه، په بل نوم يا بل ايالت/رياست کښې ډبليو.ائي.سي ګټې نه ترلاسه کوم.
- زه به ډبليو.ائي.سي کارمندان خبروم که چيرې زه د 'ماس هيلتهـ' يا بل کوم بيمه بنسټ څخه فارموله ترلاسه کړم.
- زه پوهېږم چې زه به ډبليو.ائي.سي په خپل امدن، د کور پته، د بريښنا ليک پته او موبايل شميره کښې بدلون راتلو څخه خبرومه.
- زه پوهېږم چې زه به د پروګرام څخه وړتوب له لاسه ورکړم که چيرې زه ډبليو.آئي.سي کارمندانو يا سټور کارمندانو ته جسماني يا زباني ګواښونه ورکړم.
- زه پوهېږم چې زه به د پروګرام وړتوب له لاسه ورکړم که چيرې د دروغو معلومات ورکړم د ډبليو.ائي.سي وړتوب ترلاسه کولو دپاره، بشمول شناخت، د کور پته، د کور د ټولو افرادو اجتماعي امدن (د ټولو کار کوونکو غړو، د ماشومانو لپاره مرسته، د کرايانو څخه امدن، يا داسې بل کوم امدن)، ميډيکل يا د صحت معلومات.

## د معلوماتو شريکول/ رازداري

- زه پوهېږم چې زما نوم، زما د بچي نوم، زما د کور پته، د موبايل شميره او د زيږون نيټه کيديشي نورو د صحت او انساني خدمت پروګـرامونو ته ورکړل شي چې لاسرسي ترسره کړي او د ماسيچيوسټس هيډ سټارټ/ د وخته هيډ سټارټ پروګـرام لپاره زما وړتوب اندازه ولګـوي. او ورسره د انتقالي مرستې ځانګـې ته ځوک چې د غذائيت په اړه اضافي مرسته تنظيموي. (ايس.اين.اې.پي)
- زه پوهېږم چې که چيرې زما ماشوم په هيډ سټارټ/د وخته هيډ سټارټ پروګـرام کښې داخل شي، د هغه نوم، د کور پته، د زيږون نيټه او د غذائيت خواړه، د خوراک کولو نقشې، قد او د وزن اندازې، د هيموګـلوبين/هيماټوکراټ او د سيکې اندزادې کومې چې ډبليو.آئي.سي سره دي کيديشي د ساتنې همغږۍ لپاره هيډ سټارټ/د وخته هيډ سټارټ سره يې شريک کړي
- زه پوهېږم چې د يوې داسې ښځې په حېث چې په تېرو کښې ئې زيږون ورکړې دي، زما د کور پته او موبايل شميره کيديشي د عامې صحت د حمل خطر ارزونې نظارت سسټم سره شريک کړې شي چې زما د حمل سروې سر ته رسولو لپاره راوبلي.
- زه پوهېږم چې، زما نوم، زما د ماشوم نوم، د کور پته موبايل شميره، د زيږون نيټه، جنس، نژاد، نسل، ژبه چې مونږ وايو، د سيکې سکرينينګ، په وينه کښې د سيکې ازمويني پايله/نيټه، که چيرې داسې شوې وي، د ډبليو.آئي.سي غړيتوب پيژندپاڼې شميره، او د ډبليو.ائي.سي د خدمت ساحه کيدی شي د عامې روغتيا ځانګـې ته د ماشومتوب سيکې زهرجناثراتو مخنيوي پروګـرام ته ورکړل شوی ترڅو د ماشومتوب سيکې زهري کيدو اثر مخنيوې، سکرينينګ، او پيژندنې اوشي. که زما ماشوم وپيژندل شي چې د سيکې مخنيوي لپاره ندي معاينه شوي د عامې روغتيا چاپيريال اپيډيمولوژي ځانګـه او د ماشومتوب ليډ زهرجن مخنيوي پروګـرام به له ما سره اړيکه ونيسي ترڅو په وينه کښې د سيکې سکرينينګ کښې راته اسانتياوې پيدا کړي.
- 
- دا پروګرامونه نشي کولږ هغه معلومات وکاروي کوم چې ډبليو.ائي.سي دوي ته د ځانګړي پروګرامونو ته لاسرسي دپاره ورکړې دي، پرته د کوم بل هدف لپاره وکاروي او بل چا ته دا نشي افشا کولې چې ستاسو کورنۍ په ډبليو.آئي.سي پروګرام کښې وړتوب لرۍ پرته له دې چې د قانون لخوا اړتيا وي، بل ځوک بايد ستاسو د ډبليو.آئي.سي ريکارډونو ترلاسه کولو لپاره ستاسو ليکلي اجازه ولري.

## د یو.ایس.ډي.اې د تفرقي نه کولو بیان

**د مرستندویه خوراکي توکو پروګـرامونـه (FNS) نورې ټولې ایالتي یا سیمه ییزې ادارې او د هغوی فرعی ادارې باید دعدم تبعیض لاندینی بیانیه خپور کړي:**

د فدرال مدني حقوقو قانون او د متحده ایالاتو د کرنې وزارت (USDA) د مقرراتو او مدنی حقوقو تګـلارې سره سم دغه اداره د نژاد، رنګ، ملی منشاء، جنسیت ( د جنسی هویت او جنسی تمایل په شمول)، معلولیت، سن، پر اساس تبعیض یا غچ اخیستنې یا د مخیکنې مدني حقوقو فعالیت له کبله د انتقام اخیستنې عمل ممنوع دی.

د دې پروګـرام په هکله معلومات کیدای شي په غیر انګـلیسي ژبو کې هم د لاسرسی وړ وي. هغه کسان چې کوم ډول معلولیت لري او یا د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره بیل ابزارو ته اړتیا لري (لکه د برېل لیکنه، د متن لویې اندازې چاپ، غږیز نوار، د امریکایي اشاري ژبه) نو دغه کسان دي باید ایالتي یا سیمه ییز مسؤل څوک چې دغه پروګـرام پلي کوي یا USDA TARGET مرکز سره په 2600–720 (202) شمېره (د نه اورېدونکو لپاره غږ اومخابراتی آلې) سره اړیکه ونیسي یا USDA (د امریکي د متحده ایالاتو د کرنې وزارت) سره د فدرال بیا خپرولو خدماتو له لارې په دغه شمېره 8339–877 (800) اړیکه ونیسي.

د دې پروګـرام پوري اړوند د تبعیض شکایتونه باید د شکایت کوونکي، د AD–3027 فورمه چې د USDA (د متحده ایالاتو د کرنې وزارت) د شکایاتو فورمه ده، لاندینی انټرنټي آدرس څخه د ترلاسه کولو وروسته باید ډکه کړي. [https://www.fns.usda.gov/sites/default/files/resource-files/ad3027-pashto.pdf](https://www.fns.usda.gov/sites/default/files/resource-files/ad3027-pashto.pdf)دغه فورمه تاسو د USDA (د امریکي د متحده ایالاتو د کرنې وزارت) هر دفتر څخه دغې شمېرې 9992–632 (866) سره د اړیکي نولو سره یا د USDA (د امریکي د متحده ایالاتو د کرنې وزارت) پتې ته د لیک استولو له لارې ترلاسه کولی شئ. استول شوی مکتوب باید د شکایت کوونکي نوم، پته، د ټیلفون شمېره، او په لیکل شوی بڼه د تبیضي عمل شرح د جزئیات باید په کافی اندازه ذکر شوی وي تر څو د مدني حقوقو مرستندوی (ASCR) ته د دغه نقض په څرنګـوالي او د دغه نقض د نیټې او دغه مدنی حقوقو د ادعا په اړه په سمه توګـه اطلاع ورکړي. د AD–3027 تکمیل شوی فورمه باید USDA (د امریکي د متحده ایالاتو د کرنې وزارت) ته په لاندینی پتې ته واستول شوي.

**(۱) پوستي آدرس:**
U.S. Department of Agriculture Office of the Assistant Secretary for Civil Rights
1400 Independence Avenue, SW
Washington, D.C. 20250-9410; یا
**(۲) د فکس شمېره:**
(833) 256-1665 یا (202) 690-7442; یا
**(۳) برېښنالیک یا انټرنټی پته:**
[program.intake@usda.gov](mailto:program.intake@usda.gov)

دغه اداره د مساوي فرصتونو برابرولو اداره ده.